Government of Canada / Gouvernement du Canada

# مطبوعاتي اعلامیه

**کاناډا په کندهار کې نوی ملکي استازی وټاکی**

د 2009 کال د سپتمبر 23 مه

د کاناډا د بهرنيو چارو وزير جلالتماب لورنس کانون نن د افغانستان د کندهار په ولايت کې د کاناډا د ملکي استازي په توګه د ښاغلي بن روزويل Ben Rowswell ټاکنه اعلان کړه.

مخکي له دې د 2009 کال د جنورۍ څخه ښاغلي کين لويس دغه دنده په غاړه درلوده.

د کاناډا د بهرنيو چارو وزير وويل: " ښاغلی روزويل په افغانستان کې د کاناډا د ماموريت لپاره به يو ډير مهم رول پيل کړي، ځکه د کندهار ولايت اوس هم په افغانستان کې زموږ د ماموريت لپاره مهم لومړيتوب دی."

نوموړي زياته کړه: " پخواني استازي ښاغلي لويس په کندهار ولايت کې د کاناډا د ملکي او پوځي فعاليتونو د پراختيا او همغږۍ کولو کې او همدارنګه په دغه ولايت کې د افغانانو او کاناډايانو ترمنځ د خبرو اترو د زمينې په برابرولو کې د پام وړ رول لوبولی دی."

ښاغلی بن روزويل خپله نوې دنده نن د هغو مراسمو په ترڅ کې چې د کندهار په هوايي ډګر کې جوړ شوي وو، پيل کړه.

د افغانستان په سويل کې د کاناډا ملکي استازی يو لوړ پوړی ملکي پست دی، چې په افغانستان کې د کاناډا سفير ته راپور ورکوي. په کندهار کې د کاناډا ملکي استازی د لوړ پوړي ځواب ورکوونکي په توګه د کندهار د ولايتي چارواکو، نړيوالو سازمانونو، نادولتي موسسو او پوځي همکارانو سره کار وکړي. د کاناډا ملکي استازی د ډيپلوماتانو، پراختيايي افسرانو، د پوليسو افسرانو او د محابسو د چارو د افسرانو ډله او همدارنګه کاناډايي ځواکونو ته د مشورې د ورکولو له لارې د کندهار په ولايت کې د کاناډا د لومړيتوبونه مشري کوي.

ښاغلي روزويل د کاناډا په بهرنيو خدمتونو کې 16 کلنه تجربه لري، نوموړي مخکي له دې د يوه کال لپاره په کابل کې د کاناډا د سفارت د مرستيال په توګه دنده ترسره کړې ده.

نوموړي همدرانګه په عراق کې د کاناډا د استازي او په سوماليا کې د ملګرو ملتونو د قراردادي کارکوونکي په توګه دنده ترسره کړې ده. ښاغلي بن روزويل همدرانګه د اساسي ستراتيژيکو د مطالعاتود مرکز اړوند د جګړه وروسته د موضوعاتو څيړوونکی وو، او په 2007 کال کې يې (عراق: د جګړې د يوه نوي نسل څخه مخنيوی ) په نامه کتاب هم خپور کړی دی.

د کاناډا د بهرنيو چارو وزير لورنس کانون وويل: " په کندهار کې د کاناډا د ملکي استازي په توګه دښاغلي لويس مشرتوب د کاناډا د بهرني خدمتونو په لاره کې د دغه نوي رول په بدلولو کې مرسته کړې ده. د ده ژمنه او سخت کار په بشپړه توګه د ستاينې وړ دی."

Canada

د ښاغلي لويس نوې دنده به په راتلوونکو اونيو کې اعلان شي.

په افغانستان کې د کاناډا د فعاليتونو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره، لاندنی ويبپاڼه وګورئ:
www.afghanistan.gc.ca

## د ښاغلی بن روزويل لنډه پيژنده

بن روزويل په کندهار کې د کاناډا د ملکي استازي په توګه خپله دنده پيلوي، نوموړي مخکې له دې د يوه کال لپاره په کابل کې د کاناډا د سفارت د مرستيال په توګه دنده ترسره کړې ده.
د افغانستان په سويل کې د کاناډا د لوړ پوړي چارواکي په توګه، ښاغلي بن د کاناډا د حکومت ديپلوماتيکې او د بياجوړنې د هڅو مشري د کاناډايي ځواکونو او نړيوالو همکارانو سره په همکارۍ کوي.

ښاغلي روزويل د بهرني خدمتونو د افسر په توګه 16 کاله کار کړی دی. نوموړي همدرانګه د کاناډا د بهرنيو چارو او نړيوالې سوداګرۍ په وزارت کې د ديموکراسي د ځانګې بنسټ کيښودلی دی، او همدارنګه د 2003 کال څخه تر 2005 پورې په عراق کې د کاناډا د استازي په توګه دنده ترسره کړې ده.

ده همداراز په مصر کې د کاناډا په سفارت کې او په ملګرو ملتونو کې د کاناډا په ديپلوماتيک ماموريت کې دنده ترسره کړې ده.

ښاغلي روزويل د بهرني خدمتونو څخه بهر، په عراق کې د ملي ديموکراتيک د انستيتيوت او په سوماليا کې د ملګرو ملتونو د قرارداري کارکوونکي په توګه کار کړی دی.

نوموړي د پاليسۍ د څيرونکي په توګه په واشنګټن کې د نړيوالو او ستراتيژيکو مطالعاتو په مرکز او په مونتريل کې د کيوبيک له پوهنتون سره کار کړی دی.

ده همدارنګه په 2007 کال کې د (عراق: د جګړې د يوه نوي نسل څخه مخنيوی ) په نامه د کتاب ايډيټ شوی نسخه هم خپره کړې ده.